د کابل مجلې څخه

ګڼه ۱۵۵ - مخ ۱۷ - دلوه ۱۳۲۲ - جنوري ۱۹۴۴

# لا تر کله

ښاغلی محمدرسول خان « پښتون »

مست بېخود د مې پر وایم لا تر کله
خال و خط په تمنا یم لا تر کله

د آسمانه د وفا طمع خطا ده
امیدوار ئې د وفا یم لا تر کله

کاهې ژاړم کاهې خاندم نه پوهېږم
چه ژړا یا په خندا یم لا تر کله

د عمل پر لوري نشم تلای تنبل یم
د طالع فالونه وایم لا تر کله

د حباب په څېر به بحر کښې شنا کړم
خالی سر ډك د هوا یم لا تر کله

چه په هېڅ توګه لایق د عمل نشوم
زه عاشق د تش وینا یم لا تر کله

هر ی خوانه مې کاته ځان ته مې نشی
همېشه د بله ستایم لا تر کله

چه دلبر په شغلو ویښ نشوم د خوبه
نو بیده هغسې پایم لا تر کله

چه د عشق پرې مې وشلاوه د غاړې
نو په ولې تل رسوا یم لا تر کله

بد بختي عجب انسان را څخه جوړ کي
چه په دېرو کښې تنها یم لا تر کله